د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب سایټ: http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو استازی په تمویل کوونکو غږ کړي څو د ملکي کارپوهانو د زیاتوالی لپاره د افغانانو له لرلید څخه ملاتړ وکړي

د جولای ۸، ۲۰۰۹ ،کابل- د ملګرو ملتونو استازی ښاغلی کای آیده د چهارشنبي په ورځ د افغانستان د حکومت د پلان څخه چي موخه یي د هیواد د بیا رغوني د ضروري اړتیاوو او د ملکي نړیوالو کارپوهانو د وړاندیز شوی چټک جریان تینګول دي ستاینه وکړه.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازي او په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) مشر ښاغلی آیده د افغان او نړیوالو د همغږی او نظارت ګډ بورډ ته د یوي غونډی پرمهال وویل چي د تمویل کوونکو د ملاتړ هڅي باید د هغو اړتیاو ترشا چي د افغان وګړو او د هغوی د حکومت له خوا پیژندل شوی، ودرول شي.

نړدی دیرش مرستندویه هیوادونه او سازمانونه په ننی ناسته کی ګډون کوي. د دی ناستی په پام کی نیولو سره د افغانستان د مالیی وزیر ښاغلی زاخیل وال د ۵۵ تنو ملکی کارپوهانو وړاندیز په دی ناسته کی وکړ چي دوی به د افغان د حکومت د خدمتونو د رسولو لپاره د کرهنی، زیربناګانی، حکومت داری او د اقتصادی ودی په برخه کی مرسته وکړي. دا کارپوهان به په کابل او د هیواد په نورو ولایتونو کی میشته شي.

وزیر زاخیل وال وویل: "افغان حکومت د نړیوالي ټولني له خوا د ملکي تخنیکي مرستي د پلان د برابرولو په هکله ډیر خوښ دی. د هغوي چمتوالی د افغان شخصي کلیدي اصل د منلو، د مطالبه شوی تخنیکي مرستي چي موخه یي د ظرفیت موثره انکشاف باندي متمرکزه ده، او دا پوتانسیل لري چي د وزارتونو او نمایندګیو په دننه کي د نړیوالو مشاورینو له خوا د اغیزو کچه لوړه کړي."

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي خاص استازی کای آیده وویل: "زه د حکومت هغه پلان ستایم چي د ملکي کارپوهانو په اړه لومړیتوبونه او اړتیاوي څرګندوي. حکومت باید د دي ځواک او اختیار ولري چي وټاکي چي دوي په کومو برخو کي او څنګه دغه کارپوهان په کار اچوي، څو یقیني شي چي افغانان هغه څه تر لاسه کړي چي دوي ورته اړتیا لري.

"موږ یوازي په هغه صورت کي موافق کیدای شو چي زموږ انکشافي مرستي د افغانانو له خوا خپلي او رهبري شي. موږ باید د افغانانو له خوا خپلي او رهبري شي. موږ باید د افغانانو ظرفیت تقویه کړو چي خدمتونه ورسوي او خپل حکومتي موسسات جوړ کړي. افغانستان هغو کارپوهانو ته اړتیا لري چي د دوي په ژبو وپوهیږي، د دوي له کلتور سره اشنا وي او د دي توان او اراده ولري چي د ډیر وخت لپاره هلته پاتي شي. دغه کارپوهان به مهم نقش ولري چي له افغانانو سره د فساد په مخنیوی، په اقتصادي پرمختګ کي ډیره مرسته وکړي چي نیستمنو خلکو ته یي ډیره ګټه ورسیږي او د سړکونو په جوړولو او د نورو لویو پروژو په جوړولو کی مرسته وکړي چي ډیره اړتیا ورته شته.

"د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې مرسته هیڅکله دومره زیاته نه وه. دغه مرستې دغه راز په ښه ډول همغږې شوې دي او په دې زور اچوي چې هغه پروګرامونه تقویه کړي چې د حکومت له خوا د لومړیتوبونو په خبر پیژندل شوي دي. زموږ د ګډ کار په باب اوس یو ښکاره پرمختګ شوی دی او زه هیله من یم چې دغه پرمختګ به د دونرانو په ژمنو کې انعکاس پیدا کړي چې په دغو برخو کې د کارپوهانو ضرورت ته په فوري ډول ځواب ووایې."

د نن ورځې د جی سي ام بي د غونډې مشرتوب د ملګرو ملتونو د سرمنشي د خاص استازي کای آیده او د افغانستان د مالیې د وزیر عمر زاخیل وال له خوا په ګډه سره وشو.